د افغانستان او اروپايي ټولنې د بشري حقونو د ډيالوګ تعقيبی غونډه

کابل- د 2015 کال د دسمبر 1

نن د افغانستان د اسلامی جمهوری دولت او د اروپايي ټولنې ترمنځ د بشري حقونو د ډيالوګ د ژمنو د تعقيبولو په موخه غونډه جوړه شوه.

په دغه غونډه کې د افغانستان حکومت خپل لاسته راوړنې په اړه معلومات وړاندې کړ او د هغو مهمو کړنو څخه چې د جون په 15 مه د بشري حقونو په ډيالوګ کې نيول شوي تصميمونو پر بنسټ جريان لري، يادونه وکړه. په دغه غونډه کې په افغانستان کې د بشري حقونو پر وضعيت او د بشري حقونو او د قانون د پلي کولو په برخه کې د افغانستان او اروپايي ټولنې ترمنځ همکاريو په هکله په واضح توګه خبرې وشوې.

په دغه غونډه کې د ښځو او ماشومانو د حقونو، شکنجې، عدالت ته لاس رسئ، د وينا آزادئ، د معلولو او د آسيب پذيرو خلکو د حقونو په ګډون بيلابيلو مسايلو باندې خبرې وشوې. اروپايي ټولنه ښځې، سوله او امنيت ملي عمل پرګروام، او د شکنجې سره د مبارزې د عمل ملی پروګرام د په لاره اچولو په ګډون هغو ګامونو څخه چې افغان دولت د 2015 کال په لړ کې پورته کړي دي هرکلئ وکړ.

د افغانستان دولت ژمن دي ترڅو خپل ملی او نړيوال مکلفيتونه ترسره کړي. دغه مکلفيتونه د ملي په کچه د هيواد په اساسی قانون او نورو قوانينو، پاليسيو او برنامو کې چې د اساسی قانون او نړيوالو ژمنو پر بنسټ رامنځته شوي ده، څرګند دي.

د افغانستان د اسلامی جمهوری دولت په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعيت د ښوالي او په قضايي نظام کې د اصلاحاتو د پلي کولو په موخه خپلې ژمنې تازه کړې. د شکنجې پر ضد د ملګرو ملتونو د کنوانسيون ريپورټ بشپړ شوي او د رهبرئ کميټې ته سپارل شوي دي.

اروپايي ټولنه هم په افغانستان کې د بشري حقونو د پياوړتيا او د قانون د پلي کولو په لاره کې خپل ژمنې يو واړي بيا څرګند کړ او افغان دولت يې وهڅول ترڅو د شکنجې پر ضد د کنوانسيون اختياري پروتوکول لاسليک کړي. اروپايي ټولنه همدارنګه د "وارسا" او "بروکسل" کنفرانسونو په درشل کې د بشري حقونو د ډيالوګ پر اهميت باندې ټينګار وکړ.

تمه کيږي چې د افغانستان او اروپايي ټولنې ترمنځ راتلونکې د بشري حقونو ډيالوګ د 2016 کال په پيل کې په کابل کې ترسره شي.

د لا ډېر معلومات لپاره:

د اروپايي ټولنې پلاوی
د رسنيو سلاکار
عبدالله يادګاري
ټليفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
بريښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

د بهرنيو چارو وزارت
د مطبوعاتو څانګه
ټليفوني شمېره: 371 100 202 (0) 93+
بريښنالیک: mfa.mediarelations@gmail.com